AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۲۴/۰۹/۲۹

# د ميرعلي بازار کې د پاکستاني پوځ جنګي جنايت

پاکستاني پوځ د شمالي وزيرستان ميرعلي بازار کې د فاسفورس ګوليو او بمونو کارولو سره جنګی جنايت ترسره کړي دی. د ترهګرۍ ضد جګړې تر پلمې لاندې پاکستاني پوځ د ميرعلي بازار خاورې ایرې، تباه او برباد کړي.
په دې برید کې اټکل تر دوسوو پورې ځاروي ژوندي سوځیدلي دي. د ځارويو منډيي، مارکيټونه او د مظلومو خلکو شخصي شتمني او سوداګريزه مالونه د پنجابي پوځيانو د فاسفورس بمونو او ګوليو د اور په لمبو کې سوځيدلي دي.
د دې برید له امله اوس د عامو خلکو کار وبار په مکمله توګه بند شوي دی، ځايي خلک بیا خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ کړل شوي دي.
دا بشري ضد جنګي جنايت په داسې حال کې ترسره شوي، چې د ميرعلي په سيمه کې د عزم استحکام عملياتو په لړ کې د پاکستاني پوځيانو او د ټي ټي پي ياغيانو ترمنځ شديده جګړه روانه وه. د رسنيو رپوټونو پر حواله په دې جګړه کې د ميرعلي بازار د ټي ټي پي جنګياليو لاسته تر لويدو ورسته پاکستاني پوځ د ميرعلي بازار باندې د فاسفورس توغندېزه بريد ترسره کړي.
د سپتمبر په 25 نېټه پاکستاني پوځ لخوا د فاسفورس هوايي برید په ترڅ کې د ميرعلي بازار ته قصدآ او عمدآ اور وراچولي شوې او ګڼ شمېر ځاروي په کې ژوندي سوځيدلي دي. د پاکستاني پوځ د فاسفورس کيمياوي بې رحمه برید باید د یو جنګي جنايت يا جرم په توګه ثبت کړل شي او وڅيړل شي.
په دې بې رحمه او ظالمانه برید کې بيګناه ملکيان، ځاروي او د بېوزلو خلکو شخصي شتمني او ملکي شيان هدف ګرځولي شوي او زيانمن شوي او د اور په لمبو کې سوځيدلی دي. پاکستاني پوځ تر بريد ورسته سيمه کلا بنده کړې، هيڅوک سيمې ته د جنګي جنايت د پلټنې او څيړنې لپاره نه ورپرېښودل کيږي. پاکستاني پوځ د فاسفورس په بريد کې وژل شوي خلک سمدستي له سيمې ايستل شوي دي. د ميرعلي سوځيدلي بازار کې د خلکو د خپلو سامانونو را ټولو پر مهال د وژل شويو کسانو د بدن ټوټې پراته لاسونه او پښې موندلي دي.
کومې ويډيوګانې چې په ټولنيزو رسنيو کې خپرې شوي دي، ټولې د پښتې په سيمه کې د دې ګواهي ورکوي، چې دلته د فاسفورس برید تر سره شوي دی. که سوځيدلي غواګانو ته په ځير سره وکتل شي، په اکثرو غواګانو له پاسه د فاسفورس کيمياوي توکي پر ملا، بدون او کوپړۍ باندې وريدلي يا شيندل شوي او غواوې له پاسه سوځيدلي ښکاري.
ځاروي له لاندې د پښو يا د نس لاندې برخو څخه اور نه دی اخيستلی. ځينې غواګانې په ډاګ ولاړې وې، په شاوخوا کې سوځيدلو توکي داسې مالوميږي چې د پاسه پرې د اور برید شوي وي. غواوې ځای په ځای سوځيدلي او مړې پرتې دي. داسې رپوټونه هم خپاره شوي دي، چې د ميرعلي سيمې خلکو کې د پوستکي او سترګو خاربښتونه پيل شوي. ټول شواهد د دې څرګندوي کوي، چې پاکستاني پوځ د میرعلي بازار کې دغه ممنوعه وسله د فاسفورس کيمياوي توکي کارولي دي. پاکستان د ملکي وګړو او ځارويو پر ضد ويجاړونکي جګړه پيل کړي.
په اور کې سوځيدلي پښتې سيمې ته د کتنو له مخې پاکستاني پوځ د ميرعلي په بازار کې د هوايي برید په ترڅ کې د سپينو فاسفورس توغنديزه بريد ترسره کړي دی. د ميرعلي بازار سيمه کې برید د ملکيانو استوګنځي او ملکي وګړي هم په نښه کړي دي. د ټولنيزو رسنيو د خپاره شويو راپورونو له مخې هم پاکستاني پوځ د ميرعلي بازار کې د فاسفارس کيمياوي برید ترسره کړي دی.

د جېنوا کنوانسيون له مخې د فاسفورس وسلې کارول منع دي.
د 1983 کال د ډيسمبر دريمي راهيسې د ملګرو ملتونو د دوديزو وسلو کنوانسيون نافذ شوې، چې د ملکي وګړو په وړاندې د اور وژونکي وسلو کارول منع دي. دغه کيمياوي وسله بايد د پوځي اهدافو په وړاندې هم ونه کارول شي.
د 1997 کال د جون اتمې د جينوا کنوانسيون د پروټوکول له مخې د فاسفورس بمونو کارول يو جنګي جنايت پيژندل شوي دی. په عمومي توګه په ګرده نړۍ کې په ملکي سيمو د فاسفارس بمونو کارول په کلکه منع ګرځولي شوي دي.
ځکه د فاسفورس مهمات د اور وژنکې وسله پيژندل کيږي. د ملکي وګړو په وړاندې د اور وژونکي وسلو کارول د جينوا کنوانسيون د اضافي دريم پروتوکول له مخې منع دي. که څه هم په سيمه کې بې پرې لابراتوار نښته چې د


افغان جرمن آنلاين په درنښت ټاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

فاسفورس بم یا ګولیو کارول رسماً تائید کړي. خو د پیښې په سیمه کې راټول شوي اثار او اعلایم دا ښیي، چې دلته د فاسفورس منع شوي وسله کارولې شوي ده. د غواګانو پوستکي داسې ښکاري چې له پاسه د فاسفورس سپین پوډرو پرې شیندل شوي او د فاسفورس اور په لمبو کې سوځیدلې دي.
د جینوا کنوانسیون له مخې د ملکي وګړو پر وړاندې د اور اچونکي وسلو کارول منع دي. د راټول شویو شواهیدو پر بنسټ داسې مالومیږي، چې پاکستاني پوځ دغه وسله د میرعلي په بازار کې کارولې ده. د فاسفورس ګولیو او بمونه د میرعلي په بازار کې په اسانانو او څارویو بیان نه کیدونکي کړاوونو او د وژونکي اور لمبې لامل شوي دي. فاسفورس بمونه اور اچونکي بمونه دي، چې د فاسفورس کیمیاوي مواد د ټیایر ربړ سره مخلوط شوي مواد لري.
د فاسفورس کیمیاوي توکي د وسلو په توګه کارول ممنوع دي. په هره جګړه کې د دې وسلې کارول یو جنګي جرم دی او د دغو وسلو کارول منع شوي دي. خو بیا هم دغه وژونکي وسله د امریکا، روسیې، اسرائیل او پاکستان په څیر هیوادونو کې شتون لري او دغه هیوادونه یې په سیستماتیک ډول کاروي. یادو هیوادونو دغه منع شوي سپین فارسفورس په جګړو کې کارولې دي.
په 2006 کال کې اسرائیلو د لبنان په جګړه کې دغه ډله ییزو ویجاړونکي وسله د فاسفورس بمونه کارولې دي. امریکا په عراق کې کارولې دي او د راپورنو له مخې په دې وستیو کې روسیې په اوکراین کې د فاسفورس بمونه کارولې دي. پر نړیوال کچ د دې کیمیاوي وسلو کارول سخت غندلې شوي دي.
اوس تازه د پاکستان پوځ لخوا د میرعلي بازار کې د فاسفورس بمونه کاریدلې دي، چې د نړیوالو قوانینو خلاف عمل دی او په ښکاره یو جنګي جنایت دی. د تیر اکتوبر په میاشت کې د بشري حقونو د څار سازمان او هیومن رایتس واچ اسرائیل په لبنان او غزې ټرانګه کې د سپینو فارسفورس په کارولو تورن کړ. اسرائیل دغه خبر او تور رد وي.
په 2003 کال کې امریکایانو د عراق په جګړه کې که څه هم د نړیوالو قوانینو څخه سرغړونه وه د سپینو فارسفورس بمونه کارولې او تر ډیره برید په وحشیانه توګه کارولې دي. فاسفارس بمونه هغه مهال کارول کیږي، کله چې د دښمن جنګیالي په اسانۍ سره ونه ویشتل شي یا په هوایي بریدونو کې نه وژل کیږي. څکه د دښمن جنګیالی. په کورونو، بازارونو یا په غارونو کې پټ شوي، بیا په مستقیم ډول د سپینو فارسفورس وسلې له لپارې ویشتل کیږي.
د فارسفورس کیمیاوي توکي د انسان پوستکي ته تر هډوکو پورې ورښکته کیږي.
د پاکستاني پوځ لخوا د سپینو فارسفارس غیر قانوني کاروني شواهد دا ښیي، چې دا وسله په ځانګړي توګه یوه ډله ییزه ظالمانه وژونکي وسله ده. کله چې سرې د څارویو په منډیي کې سوځیدلې غواګاني ګوري. ویني چې دغه د اور وژونکي وسله څومره خطرناکه ده. په انسانانو کې د دغې وسلې اغیزې تر اوږد مهماله پورې ویجاړونکي پاتې وي.

د فاسفورس وسلې ملکي وګړو ته لوی خطر پیښوي.
د پاکستاني پوځ د میرعلي په برید کې د فاسفورس ګولیو او توغندي کارولې، کیدای شي ملکي وګړو ته جدي اوږد مهاله روغتیایي زیانونه ورسوي. سپین فاسفورس د انسانانو، څارویو، کورونو او د شخصي شیانو په ضد د اور لګولو وسلې په توګه کارول کیږي. د فاسفورس بم خورا شدیدې سوځوونکي اغیزې لري. د انسانانو د سختو سوځیدنې لامل ګرځي او په سیمه کې ودانیو، کروندو او نورو ملکي شیانو یو دم د اور په خوله کې وراچول کیږي او سوځول کیږي.
فاسفورس بم یوه وسله ده، چې سپین فاسفورس په کې کارول کیږي. سپین فاسفورس یو ډیر اور تولیدونکی کیمیاوي توکي دی، چې د هوا اکسیجن سره په تماس کیدو سره سمدلاسه اور اخلي او په اچول شوي سیمه باندې اور سور بلوي. د جګړې په ډګر کې د فاسفورس بمونه اور لګوي او دښمن ته د جګړې په ډګر کې سترو زیانونو رسولې لپاره کارول کیږي.

د فارسفورس بم ځانګړتیاوې
فاسفورس یو زهرجن کیمیاوي توکی دی، چې ترینه پوځي اور اچونکي وسله، د زیګنال وسیلې، د تر صد مهماتو او د لوګی یا سپینې وریځې یا دوړ جوړولو، بمونو او ګولیو کې کارول کیږي. په کارول شوي سیمه کې کولې شي د شدیدو سوځیدنې لامل وګرځي. د فاسفورس بم د اور لمبې په اوبو نشي مړ کیدلې ، شګه کولې شي د اور لمبې په مړولو کې مرسته وکړي. کله چې فاسفورس بم په هوا کې مخکې له دې چې ځمکې ته ورسیږي د اکیسجن سره په تماس کیدو سره چاودنه کوي، په لوړه کچه تودوخه کې سوځي او ډیر لوګي تولیدوي. د سپین فاسفورس بم په یوه پراخه سیمه یا ساحه باندې اچول کیږي او په شاخوا سیمه باندې اور لګوي. د فاسفورس وسله د لویو سیمو سوځولو او ویجاړولو لپاره کارول کیږي. لاسي بمونه هم هوا ته توغول کیږي، د فاسفورس کوچني ذرات په پراخه ساحه باندې کارول کیږي او ورو ورو پر ځمکه باندې د سپینې دوړې په بڼه کې راوریږي. دا د احتراق په جریان کې رامنځته کیږي. فلسفورس یوه ډیره ناوړه خطرناکه وسله ده، کله چې مستقیماً پر انسانانو کارول کیږي. د میرعلي په بازار کې د پنجابي پوځ استبلیشمنټ د پښتون ضد پالسیې او پوځي عملیاتو موخه همدا مظلوم بیچاره او بې دفاع پښتانه وو.
د فاسفورس بم سوځیدنې اغیزې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د فاسفورس ذرات کولي شي د شدیدو فزیکي سوځیدنې لامل وګرځي. فارسفورس بمونه معمولاً د دښمن د تجهزاتو، وسایلو او زیربناوې د ویجاړولو لپاره کارول کیږي. د نړیوالو قوانینو له مخې د فاسفورس وسلې د انسان او انسانیت په وړاندې کارول منع دي.
پاکستاني پوځ د میرعلي په بازار کې د سپینو فاسفورس ګولي یا بم کارولي، په بازار کې ګڼ شمیر ملکیان اوسیږي. د میرعلي سیمې ملکي وګړو ته لوی خطر پېش کړي. دا د نړیوالو بشري قوانینو څخه سرغړونه ده، ځکه په دې برید کې ملکي وګړي او ښاروي سوځیدلي دي.
هر کله چې سپین فاسفورس په ګڼ مېشتو ملکي وګړو په سیمو باندې وکارول شي. دغه کیمیاوي توکي د انسان سوځیدنې سربیره دې ټول عمر د رنځونو او دردونو له لوړ خطر سره مخامخولي شي.
په ګڼ مېشتو ښاري سیمو کې د سپین فاسفورس بمونو کارول یو غیر انساني او غیر قانوني عمل دي او کولی شي کورونه او ملکي وګړو ته د پاموړ زیانونه ور ورسوي. د سپینو فاسفورس وسلې کارول سپین لوګي تولیدوي او د هوړې په څېر یو ځانګړې بوی لري.
سپین فاسفورس په هوا کې د اکسیجن سره په تماس کیدلو سره سوځي، ترهغې سوځي، ترڅو چې هیڅ شی پاتي نشي یا اکسیجن رسیدل وربانديې قطع یا بند شي. د فاسفورس کیمیاوي تعامل کولي شي شدیده تودوخه تولید کړي، اټکل تر 1300 سانتي ګراډه پورې تودوخه لوړ لیدلي شي. همدارنګه ډېره رڼا او لوګی هم تولیدوي. د فاسفورس سره تماس کولي د تودوخي او د کیمیاوي سوځیدنې لامل وګرځي. د انسان پوستکي په اسانی سره سوځوي او په اسانی سره د انسان غوښه هم لمنځه وړي یا ویلې کوي.

د فاسفورس زخمونو درملنې امکانات ډېر لږ دي
د یوه بالغ انسان لپاره 50 ګرامه فاسفورس وژنکي دي، که چېرې مستقیماً واخیستل شي. مړینه یې د پینځو څخه تر لسو ورځو پورې واقع کیږي. د یوه ماشوم لپاره یوازې دوه میلي ګرامه فاسفورس کافي دي، چې په څو ساعتونو کې د مړینې لامل شي.
د فاسفورس وړې وړې ټوټې کولي شي زخمونه حتی د درملنې ورسته بیرته نو ونیسي او خراب شي. کله چې د وینو جریان ته ننوځي او د انسان غړو یا د اورګانونو د لمنځه وړولو لامل ګرځي. هغه زخمونو چې مخکې درملنه شوي وي، بیا په نارو غې اخته کیدلي شي. که چېرې پټی ترینه لیرې شي او ټپونه د اکسیجن سره بیا اړیکه ومومي.
لنډه دا چې اکثراً نسبتاً جزوي سوځیدنه د مرګ لامل ګرځي. ډېرې وختونه په وجود کې ستر ستر داغونه رامنځته کوي، چې د عضلاتو نسج محدودوي او فزیکي معلولیتونو لامل ګرځي. د فاسفورس برید دردناکه تجربې یا ټراوما ورسته دردونه او ظاهراً په ټپونو کې بدلون د ژوندي پاتي شویو لپاره د روحي او رواني زیانونو او په ټولنه کې د ټولنیز جلاولي یا انذوا لامل هم ګرځي.
د بشري حقونو د څار سازمان هم د سپینو فاسفورس کارول له نړیوالو بشري قانون څخه سرغړونه ګڼي.
په ملکي سیمو باندې د اور وژنوکي وسلو کارولو سره هوایي بریدونه د دودیزو وسلو د کنوانسیون ( Convention on Certain Conventional Weapons- CCW) دریم پروتوکل له مخې منع دي. د (CCW) د غړي هیوادونو کې یوازې امریکا، روس، اسرائیل او پاکستان دا پروتوکول نه تصویبوي. ځکه دغې پروتوکل په ځانګړو شرایطو کې هم د اور وژنوکي وسلې کارول منع کړي دي.
کله چې فاسفورس د اکسیجن سره ولګیږي، دا په خورا لوړه تودوخه کې سوځي او ډېرې وختونه په هغه سیمه کې د اور لګیدو لامل ګرځي، چیر ته چې فاسفارس کارول کیږي، هلته ټول خلک په کې سوځي. په خلکو کې د تنفسي سیستم زیانونه، د بدن غړو فلجیت، د نور وحشتناک او په ژوندي پاتي شوي کې د ژورو ټپونو پشمول د سوځیدنې درملنه خورا ستونزمنه ده.
موږ د پاکستان پوځ لخوا دا ناوړه عمل او نور بشري ضد اعمال په کلکو ټکو کې وغندو. له دې ظالم او غیر انساني رژیم څخه په جدي توګه غوښتنه کوو، چې زر تر زره د سپینو فارسفورس بمونو او ګولیو کاروال ودروي او په ځانګړې توګه په ملکي سیمو کې د بشریت ضد دله ییزه وسله او خپل پوځي اقدامات سمدستي متوقف کړئ.

پای

د لیکوال: آرشیف


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ